د ادم زوی زما څخه انکار وکړ او هغه د دې حق نه درلود او هغه زما سپکاوی وکړ خو هغه د دې حق نه درلود

له ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی: هغه له پېغمبر صلی الله عليه وسلم څخه روايت کوي چې هغه فرمايلي دي: «اللَّهُ جل جلاله فرمايلي: د ادم زوی زما څخه انکار وکړ او هغه د دې حق نه درلود او هغه زما سپکاوی وکړ خو هغه د دې حق نه درلود، زما څخه انکار د هغه دا وينا ده چې: ما به بيا را ژوندی نه کړي لکه څنګه يې چې په لومړي ځل پيدا کړی وم، حال دا چې زما لپاره هيڅ شی د هغه له بيرته راګرځولو څخه اسانه نه دی، او ماته سپکاوی دهغه دا وينا ده چې: الله تعالی زوی لري، حال دا چې زه يو او بې نيازه يم، نه مې څوک زيږولی او نه له چا زيږيدلی يم، او زما په شان هيڅوک نشته».

[صحيح دی] [بخاري روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم په قدسي حديث کې خبر ورکوي چې الله جل جلاله د مشرکانو او کافرانو په اړه فرمايلي چې هغوی ترې انکار کوي او په نيمګړتياوو او عيبونو سره يې يادوي، حال دا چې دوی ته دا په کار نه وو. نو له الله څخه يې انکار دا ګمان کول دي چې الله به بيا دوی له مرګ نه وروسته پيدا نه کړي لکه څنګه يې چې په لومړي ځل له نشت څخه پيدا کړي وو، نو الله د هغوی دا خبره پدې سره رد کړه چې د هغه چا لپاره چې په لومړي ځل يې له نشت څخه پيدا کول پيل کړي دي پدې ځواکمن دی چې بيا يې پيدا کړي، بلکې دا کار ورته اسان دی، او که چېرته الله جل جلاله ته دواړه کارونه؛ پيدا کول او بېرته راګرځول اسان وي، نو بيا خو الله جل جلاله پر هر څه قادر دي. او د دوی سپکاوی دا وينا ده چې وايي: الله زوی لري، نو هغوی ته يې ځواب ورکړ چې هغه خو يو دی؛ هغه ذات دی چې په خپلو نومونو، صفتونو او افعالو کې له ټولو کمالاتو سره بې ساری دی، له هر ډول عيب او نېمګړتيا څخه پاک دی، بې نيازه دی چې هيڅا ته اړتيا نه لري او هر څوک هغه ته اړتيا لري، نه د چا پلار و، نه د چا زوی و، او نه د هغه سېبخلي ذات برابر بل څوک شته.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/6327